مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر
۲۰۲۱/۱۲/۰۳

# ورک يې په اجل کړې

لويه ربه حال زما د قوم بدل کړې
دا سختی او پريشانی ته پرې سهل کړې

چارچاپيره را چاپير ټول غليمان دي
غليمان دافغانانو په پښو شل کړې

دښمنان زما د خلکو يو او سل نه دي
ورک يې ته دمځکي مخ څه په اجل کړې

توان توفيق داتفاق کښيږدې زما قوم کې
دښمني کې دښمنان زموږ کسل کړې

ته د هرسلطان پر سر باندې سلطان يې
په قدرت سره ختنی د کفر چل ول کړې

پاچهي کې دي کمبود د کوم څيز نسته
قوم زما لره را لنډ هر اوږد منزل کړې

خپل مې هم د ناپوهيه نه پوهيږې
ته هر يو د علم پوهې پر لار مل کړې

ستا و در ته د نومير لاسونه لپه
دين اسلام مو هر مرض لره درمل کړې

۲۸ - نوامبر - ۲۰۲۱
متحده ایالات ، کلفورنیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ